
اونيزه مجله: 358
WEEKLY BOOKLET: 358

# دامیرِ اهلِ سُنّت
# دسفرِمدينه 1980
# نهِ واپسي

PASHTO



- دمدينے ادب
- دمدينے دِ ښکي وېزي لګولو پيشکش
- ته څي نه، راځي
- مدينے نه واپس تلونکي ته پيغامِ رضا

پیشکش:
المدينه العلميه (دعوتِ اسلامی)
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د امیرِ اھلِسُنَّت د سفرِ مدینه 1980 نه واپسي

**دُعائے خلیفۂ امیرِ اھلِسُنَّت:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله ”د امیرِ اھلِسُنَّت د سفرِ مدینه 1980 نه واپسي “ ولولي یا واوري، هغهٔ ته د مدینے منورې د دولت غم عطا کړې او پهٔ خیر او عافیت سره د هغهٔ هر کال د مدینے منورې حاضري نصیب کړې- اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

څوک چې د حُضُورِ اَکرَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قبر مبارک ته مخامخ ودرېږي او دا آیت مبارک یو ځل ولولي: ﴿اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓىِٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ بیا 70 کرته دا عرض وکړي: صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْكَ وَسَلَّمَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه نو فرښته د دې پهٔ جواب کښې داسې وائي: اے فلانکیه! پهٔ تا باندې دې د الله پاک سلام وي- بیا فرښته د هغهٔ د پاره دُعا کوي: یَا الله پاکه! د دهٔ څهٔ داسې ضرورت دې پاتې نشي پهٔ کوم کښې چې دا ناکامه شي-

(مواهب اللدنیه، 412/3)

اے سائلو! آجاؤ اور جھولیاں پھیلاؤ　　دربارِ رسالت سے انکار نہیں ہوتا

(وسائلِ بخشش، ص169)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! 　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مدینے منورې په باره کښې مو دا څۀ ووئيل---؟

د مدینے د عاشق امیرِ اهلِسُنَّت، حضرت علامه مولانا محمد الیاس عطار قادري رضوي ضیائي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه مدینے منورې ته د حج د پاره د تللو نه وړاندې یا وروستو په مدینه منوره کښې چا ووئيل چې کله د حج موسم (یعنې د حج په ورځو کښې) مدینه منوره خالي شي، په دې باندې د مدینے عاشق فوراً د هغۀ اِصلاح وکړه او اوئې وئيل چې تاسو دا څۀ ووئيل؟ مدینه منوَّره او--- په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې خو هر وخت فرښتې حاضرې وي:

ستّر ہزار صُبح ہیں ستّر ہزار شام یوں بندَگیِ زُلف و رُخ آٹھوں پَہر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص220)

## د ښکلو الفاظو انتخاب

د خبرو اترو کولو نه مخکښې لږ سعت د صبر کولو او غور کولو عادت جوړول پکار دي او د مدینے منورې په باره کښې خو دې د داسې الفاظو انتخاب وکړے شي چې د هغې نه عشقِ رسول او عشقِ مدینه ظاهریږي- الله دې نه کړي چې زمونږ د خُلې نه د دې پاکې زمکې په باره کښې څۀ نامناسبه الفاظ ووځي- په تاریخ کښې د عاشقانِ رسول د مدینے منورې د ادب او احترام په باره کښې داسې واقعات دي چې عقل ورته حیرانیږي، لکه چې یو ګس به په مدینه منوَّره کښې هر وخت ژړل او معافي به یـې غوښتله، چې کله د هغۀ نه د دې وجه وپوښتلے شوه نو هغۀ جواب ورکړو چې یوه ورځ ما د مدینے منورې ماستو ته تراوه او خراب ووئيل، د دې وئيلو سره زما نسبت واخستے شو (یعنې معرفت رانه واخستے شو) او زما سره سخته معامله وشوه چې د محبوب د ښار ماستو

ته خراب ويونکيه د محبت پهٔ نظر وګوره! د محبوب د کوڅې هر يو څيز غوره دے- (بهارِ مثنوی، ص 128 ماخوذاً)

محفوظ سَدا رکھنا شَہا! بےادبوں سے    اور مجھ سے بھی سَرزَد نہ کبھی بے ادبی ہو
(وسائلِ بخشش، ص 315)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!    صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مدينے منورې آدَب

د عاشقانو امام، د کروړونو مالکيانو پيشوا، د حضرت امامِ مالِک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ مخکښې چا ووئيل چې "د مدينے خاوره خرابه ده" دا يې چې واوريدل نو امام مالک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فتویٰ ورکړه چې دا دې ديرش (30) دُرې ووهلے شي او قيد دې کړے شي- (الشفاء، 57/2)

## د مدينے منورې د سفر تياري

امام اهلِسُنَّت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله د حج پهٔ دويم سفر کښې جدّې مبارکې ته ورسيدو نو پهٔ خدمت کښې يې تبه حاضره شوه، هم پهٔ دې حالت کښې مدينے منورې ته حاضرې وشوه او عمره مبارکه يې وکړه- داسې تبه يې وه چې هډو د تللو نوم يې نه اخستو نو سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د تبې د نهٔ تللو سره زما سره د نبيِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې د حاضرۍ فِکر شو- ما هم پهٔ دې حالت کښې مدينے منورې ته د حاضرۍ اراده وکړه، د مکے مکرمې علمائے کرام خوک چې د هغوئي د عِلمي شان او شوکت نه ډير زيات متاثره وو، هغوئي راغلل او د بيمارۍ نه پس يې د حاضريدو ووئيل نو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې پهٔ عشقِ رسول کښې ډوب کوم

الفاظ ارشاد کړل هغهٔ د سرو زرو پهٔ قلم د لیکلو قابل دي هغوئي ووفرمائیل: " که ربنتیا وایم نو د حاضرۍ اصلي مقصد د مدینے منورې زیارت دے، دواړه ځل هم پهٔ دې نیت د کور نه راغلے یم-" هغوئي بیا اصرار وکړو او د هغوئي د طَبعي حالت پهٔ باره کښې یــې هغوئي ته ووئیل نو اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه دا حدیثِ پاک ولوستو: مَنْ حَجَّ وَلَمْ یَزُرْنِیْ فَقَدْ جَفَانِیْ ترجمه: چا چې حج وکړو او زما زیارت یــې ونـکـړو هغهٔ زما سره جفا وکړه- - (کشف الخفاء، 2/218، حدیث: 2458) علمائے کرامو عرض وکړو چې تاسو یو ځل (یعنې مخکښې د حج پهٔ سفر کښې) زیارت کړے دے، سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه ووفرمائیل: زما په نزد د حدیثِ پاک دا مطلب نه دے چې پهٔ عمر کښې هر څومره هم حجونه وکړې، زیارت یو ځل کافي دے بلکې د هر حج سره زیارت ضرور دے، اوس تاسو دُعا وکړئ چې زهٔ سرکار (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته وَرَسیږم- چې روضه مبارکه یو نظر ووینم که بیا پهٔ هُغه وخت رُوح هم د تن نه جُدا شي نو خیر دے- (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص202 بتغیر) د الله رَبُّ العزّت دې پهٔ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پهٔ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِیْنْ بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه خلیفه، مَدّاحُ الحبیب مولانا محمد جمیلُ الرحمان رضوي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه لیکي:

بھلا کون کعبہ کو کعبہ سمجھتا     جو شاہا نہ ہوتا مدینہ تمہارا

(قبالۂ بخشش، ص32)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## زهٔ مدینے منورې ته ځم

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! څوک هُم د کور نه د مدینے منورې د سفر اراده کوي او د حج د پاره ځي نو څوک د حج د پاره د تلونکي نه پوښتنه کوي چې چرته ځې؟ نو هغهٔ " رُخ اُدھر ہے جدھر مدینہ ہے [یعنې چې مخ هُغه اړخ ته دے

چرته چې مدینه ده] " وائي- لکه څنګه چې به شیخُ الحدیث، حضور مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت علامه مولانا سردار احمد رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ کله په خپل جامع مسجد سُنّي رضوي (فیصل آباد) کښې د جُمعې د ورځې بیان فرمائیلو نو خلق به د لرې لرې نه د هغوئي د بیان اوریدو او په هغوئي پسې د جُمعې د نـمونځ ادا کولو د پاره حاضریدل- چې کله د هغوئي په دویم ځل د حج سفر وو، په هٔغه جُمعه چې یـې کله د بیان د پاره تشریف یوړلو نو خپل یو شاګرد ته یـې ووفرمائیل: خلقو ته زما د سفر په باره کښې ووایه، خلق به خوشحاله شي- چې کله د هغوئي د حج د سفر اعلان وکړے شو نو هغوئي خپل هم هٔغه شاګرد راوبللو او اوئې فرمائیل: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! ما فرض حج کړے دے، دا ځل خو صرف په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د حاضرۍ په نیت سره ځم، د دې حاضرۍ په برکت به حج هم وکړم څکه دا اعلان وکړه چې **"زهٔ مدینے منورې ته ځم-"**

اس کے طُفیل حج بھی خدا نے کرا دیے　　　اصلِ مراد حاضری اس پاک دَر کی ہے

(حدائقِ بخشش، ص202،203)

**شرحِ کلامِ رضا:** سیدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ ته د فَنَا فِي الرَّسول عظیم مقام حاصل وو او رښتوني عاشق ته د خپل محبوب نه علاوه نور هیڅ هم په نظر نه راځي، د رَبُّ الۡعٰلَمِیۡن محبوب، رَحۡمَۃٌ لِّلۡعٰلَمِیۡن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو د کائنات اصلي مقصد دے څکه خو اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د خپل عشقِ رسول بیان څهٔ داسې کوي چې زهٔ د کور نه د نبيِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د حاضرۍ د پاره روان شوے یم او د نبيِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نوراني دربار د زیارت په برکت زما د حج سعادت هم نصیب شو-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مدينے منورې پۀ شان نور هيڅ نشته

د کائنات د ټولو نه ښائسته او ښکلي ښارونه، مکه او مدينه دي، دلته شپه ورځ رحمتونه راوريږي، پۀ ټوله دُنيا کښې د مکے مکرمې او د مدينے منورې پۀ شان د برکت والا او ښکلي ښارونه نشته- دا دواړه مبارک ښارونه د عاشقانِ رسول د سترګو نُور او د زړونو سرور دے- د دُنيا ټولې ښکلاګانې او ځلاګانې د عرب د صحرا نه ځار او قربان شه، پۀ مدينه منوره کښې هُغه آرام او سکون او قرار دے کوم چې د دُنيا پۀ يو ښار کښې هم نشته، پۀ دې برکتي ښار کښې هُغه کشش دے کوم چې پۀ دُنيا کښې چرته هم نشته، پۀ دې مبارکو ښارونو کښې هُغه ښکلاګانې ځلاګانې دي کومې چې د دُنيا پۀ يوه سيمه کښې هم نشته- دا مبارک ښارونه خو داسې دي چې انسانان خو انسانان دي چې فرښتے هم دلته بيا بيا د حاضرئ ارمان کوي- عاشقِ ماهِ رسالت اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه ليکي:

یہ بدلیاں نہ ہوں تو کروروں کی آس جائے اور بارگاہِ مرحمت عام تر کی ہے
مَعْصوموں کو ہے عمر میں صرف ایکبار بار عاصی پڑے رہیں تو صَلا عمر بھر کی ہے
(حدائقِ بخشش، ص 221)

**شرحِ کلامِ رضا:** سيدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د دې نه پۀ مخکښيني شعر کښې د حديثِ پاک مضمون بيانوي او ليکي چې د نبيِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دربار مبارک ته روزانه سحر او ماښام اويا اويا زره فرښتے حاضريږي او صلوٰة او سلام عرض کوي کوم چې يو ځل حاضر شي نو هغۀ تر قيامته پورې بيا نشي حاضريدے ځکه چې د فرښتو شميره دومره زياته ده چې که دوئي پۀ نمبر نکړے شي نو بيا به پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د کروړونو فرښتو د

حاضرۍ اُمید ختم شي خو دا بارګاه هُغه عظیمه بارګاه ده چرته چې چا ته هم څۀ نااُمیدي او مایوسي نشته، هر چا ته عطا کولے شي، فرښتے د ګناه نه پاکې صفا او معصومه دي هغوئي ته خو یو ځل د حاضرۍ اجازت میلاؤ شوے دے خو ګنهګار اُمتي که پۀ مدینه منوَّره کښې ټول عمر هم تیرول غواړي نو هغۀ ته د دې اجازت دے، څوک هغۀ منع کولو والا نه دے- عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه څۀ داسې عرض کوي:

مدینے جائیں پھر آئیں دوبارہ پھر جائیں  اِسی میں عمر گزر جائے یاخدا یارب

(وسائلِ بخشش، ص87)

## د عاشقِ مدینه پۀ مدینه منوَّره کښې دوه نیمې میاشتې قیام

د مدینے عاشق امیرِ اهلِسُنَّت پۀ کال 1980 کښې د مدینے منورې پۀ سفر کښې د شَوَّال شریف نه د ذوالحج شریف تر آخره یا مینځ پورې تقریباً دوه نیمې میاشتې د خپل ژوند ډیر بے بها وختونه د عرب پۀ فضاګانو کښې د تیرولو نه پس چې کله د مدینے منورې نه جُدا کیدلو نو د هغوئي د پاره هُغه وخت د څۀ لوئي حادثې نه کم نه وو، هغوئي د مدینے منورې پۀ غم کښې ډیر غمژن وو او غم به ولې نه وو، داسې زړۀ راښکونکے او ښکلے منظر د سترګو نه پناه کیدلو، د مدینے منورې نه د یو رښتوني عاشقِ رسول ظاهري جدائي څۀ اسانه نه ده، چې کله د مدینے منورې نه د جدایۍ وخت رانزدې شي نو د عاشقانو د سترګو نه د اوښکو پۀ ځائے وینې بهیږي، هُغه دَر او دیوالونه، هُغه مسجدِ نبوي او هُغه شنه جنګله او مُناره زړۀ پریښودل نه غواړي- زړۀ پۀ سلګو سلګو ژړل غواړي بلکې زړۀ غواړي چې دلته د ایمان او عافیت سره پۀ جنتُ البقیع کښې پۀ خیر سره دوه ګزه زمکه میلاؤ شي او د ژوند ارمان یې پوره شي-

طیبہ سے لوٹنا کسی عاشق سے پوچھیئے ایسا لگے کہ روح بدن سے گزر گئی

یو بَل شاعر هم څهٔ ډیر ښه وئیلي دي:

دِل تڑپ جائے گا اے زائرِ بطحا تیرا تیری جس وقت مدینے سے جُدائی ہو گی

## د مَهجورِ مدینه (یعنې د مدینے منورې نه د جُدا کیدونکي) حال

مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡه فرمائي: د مدینے منورې نه د رخصتیدو پهٔ وخت چې د زیارت کوونکو څهٔ حال وي د هغې پوښتنه مهٔ کوئ، د مدینے د در او دیوال جدائي ژړول کوي- ما د مسجدِ نبوي شریف چوکاټونو ته د ورغاړه وتو سره خلق پهٔ ژړا لیدلي دي-

بدن سے جان نکلتی ہے آہ سینہ سے ترے فدائی نکلتے ہیں جب مدینہ سے

فقیر د دریم حج نه د رخصتیدو پهٔ وخت د مدینے منورې در او دیوال ته عرض کړے وو:

جا رہا ہے اب ہمارا قافلہ اے در و دیوارِ شہرِ مصطفٰے
یاد تیری جس گھڑی بھی آئے گی ہے یقیں دل کو بہت تڑپائے گی

(مرآۃالمناجیح، 2/506)

## کلام: اَلوَداع تاجدارِ مدینه

د مدینے عاشق، امیرِ اهلِسُنَّت د مدینے منورې پهٔ غم کښې ژړل- پهٔ دغه ورځو کښې هغوئي پهٔ مدینه منوَّره کښې د خپل غمژن زړهٔ د جذباتو اظهار د خپل شفیق او مهربان آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ بارګاه کښې بالکل د شنو جنګلو مخې ته پهٔ ژړا ژړا د شعرونو پهٔ شکل کښې وکړو- تقریباً نیمه صدۍ (یعنې 50 کاله) یـې

کيدونکي دي، دا کلام داسې درد او غم لري چې اوس يې هم ښوک لولي نو پۀ سترګو کښې يې اوښکې راځي- تاسو هم دا د الوداع شعرونه ولولئ:

**! اب وقتِ رخصت ہے آیا اَلوَداع آہ شاہِ مدینہ** [1]

آہ اب وقتِ رخصت ہے آیا / اَلوَداع آہ شاہِ مدینہ
صدمۂ ہِجر کیسے سَہوں گا / الوداع آہ شاہِ مدینہ
بے قراری بڑھی جا رہی ہے / ہِجر کی اب گھڑی آ رہی ہے
دل ہوا جاتا ہے پارہ پارہ / الوداع آہ شاہِ مدینہ
کس طرح شوق سے میں چلا تھا / دل کا غُنچہ خوشی سے کھلا تھا
آہ! اب چھُوٹتا ہے مدینہ / الوداع آہ شاہِ مدینہ
کُوئے جاناں کی رنگیں فَضاؤ! / اے مُعطّر مُعنبر ہواؤ!
لو سلام آخری اب ہمارا / الوداع آہ شاہِ مدینہ
کاش! قسمت مِرا ساتھ دیتی / موت بھی یاوَری میری کرتی
جان قدموں پہ قربان کرتا / الوداع آہ شاہِ مدینہ
سوزِ اُلفت سے جلتا رہوں میں / عشق میں تیرے گھلتا رہوں میں
چاہے دیوانہ سمجھے زمانہ / الوداع آہ شاہِ مدینہ
میں جہاں بھی رہوں میرے آقا / ہو نظر میں مدینے کا جلوہ
اِلتجا میری مقبول فرما / الوداع آہ شاہِ مدینہ
کچھ نہ حُسنِ عمل کر سکا ہوں / نذر چند اَشک میں کر رہا ہوں
بس یہی ہے مِرا کُل اَثاثہ / الوداع آہ شاہِ مدینہ

---

[1] ... د 1980 د مدينے پۀ سفر کښې د دې کلام د ليکلو نه پس اوس د کال 2024 پورې پۀ دې کلام کښې څۀ ضروري بدلون شوے دے-

آنکھ سے اب ہوا خون جاری روح پر بھی ہوا رنج طاری
جلد عطارؔ کو پھر بلانا الوداع آہ شاہِ مدینہ
(وسائلِ بخشش، ص373)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د الوداعي کلام مقبوليت

پۀ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د خپل صادق عاشق دا الوداع قبوله شوه، هغه داسې چې کله د مدينے منورې عاشق، اميرِ اهلِسُنَّت دا الوداع وليکله نو د يو عاشقِ رسول پۀ خوب کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو لکه څنګه چې به د بابُ الاِسلام (سنده) د مشهور ښار حيدر آباد د دعوتِ اِسلامي يو ځلمے مبلغ عبدُ القادر عطاري د نيکۍ پۀ دعوت عام کولو کښې مصروف وو، د ديني کار سره جذبه پکښې دومره زياته وه چې روزانه به مختلفو جوماتو ته تللو او د فيضانِ سُنَّت نه به يـې شپږ درسونه ورکول- پۀ ماسپښين کښې خو به يـې دوه درسونه ورکول، يو به يـې د 1:30 بجې پۀ نـمونځ کښې او دويم به يـې د دوو بجو د ماسپښين د نـمونځ نه پس- د هغۀ پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک 1408 هجرۍ کښې د عمرې سعادت نصيب شو، هم پۀ هُغه رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د جمعة الـوداع پۀ ورځ بالکل پۀ ځوانۍ کښې وفات شو- د هغۀ مشر ورور وائي چې يو ځل د عبدُ القادر ورور د مدينے د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: الياس قادري ته زما سلام وايه او ورته ووايه چې تا د "**الوداع تاجدارِ مدينه**" والا قصيده ليکلې ده، هغه زمونږه ډېره خوښه شوې ده او ورته ووايه چې دا ځل کله مدينے ته راشې نو نوې "الوداع" وليکه او که ممکن نه وي نو هم هُغه الوداع واوروه-

# د شنو جنګلو مخې ته آخري حاضري

چې کله هُغه د درد نه ډَک سعتونه راغلل چې اوس به د مدینے منورې نه جُدا کیدل وي، امیرِ اھلِسُنَّت پهٔ بارګاهِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د الوداعي حاضرۍ او لکه د واپسۍ اجازت اخستو د پاره حاضر شو نو زړهٔ یـې ډیر غمژن وو- قدم یـې نشو اخستے- پهٔ هغوئي باندې د آخري حاضرۍ د پاره د روضې مبارکې پهٔ لور د تللو دومره لیوالتیا وه چې مخې ته راتلونکي در او دیوالونه به یـې بے اختیاره ښکلول، تر دې پورې چې ګلونه، بوټي او پاڼې به یـې هم ښکلولې- هم پهٔ دې سرور او مستۍ کښې چې کله هغوئي یو بوټي ته د ښکلولو د پاره وربښکته شو نو د هغې سره لګیدلے د مدینے منورې یو ازغے د هغوئي د سترګې پهٔ پرده کښې لاړو او لړه شان وینه ترینه راووتله- د مدینے منورې د تازه وینې سره مسجدِ نبوي شریف ته داخل شو او پهٔ ناقلارۍ کښې د الوداعي سلام عرض کولو د پاره بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او پهٔ ژړا ژړا یـې الوداعي سلام او کلام پیش کړو- الوداعي سلام او لکه د واپسۍ اجازت اخستو سره پشا پشا راواپس شو- جي! پشا پشا ځکه چې دا هُغه پاک دربار دے چرته چې شا کول هم د عاشقِ رسول د پاره بے ادبي ده- هغوئي پهٔ دې درد او غم کښې پهٔ ژړا ژړا واپس راروان وو، د حج وخت وو، د ټولې دُنیا نه حاجیان صاحبان مدینے منورې ته حاضریدل، خلقو د مدینے منورې دې عاشق ته کتل چې دا پته نه لګي چې ولې ژاړي، پهٔ دې کښې د یو وطن یو کَس ورورړاندې شو او پوښتنه یـې وکړه: وروره! څهٔ وشول؟ تاسو دومره ولې ژاړئ؟ د صادق عاشق پهٔ زړهٔ باندې دا پوښتنه "پهٔ زخم باندې د مالګې دوړولو نه څهٔ کمه نه وه" دا هُغه زخم وو کوم چې د سر پهٔ سترګو نهٔ بلکې پهٔ سترګو باندې ښودل وو د مدینے عاشق به د خپل زړهٔ حالت هغهٔ ته څنګه ښودلو او بیانولو، د دې پوښتنې جواب یـې د

سترګو پۀ ژبه (يعنې پۀ اوښکو) ورکولو، هغوئي پۀ ژړا ژړا جواب ورکړو: زۀ د مدينے نه ځم- د مدينے د عشق او د مدينے منورې د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق د خوند نه ناخبره ګس ته د دې اندازه څنګه لګيدے شوه ځکه چې چا د عشقِ رسول ډَک جامونه څښلي وي، پۀ هغۀ کښې او چا چې چرته داسې لوستلي، ليدلي او اوريدلي نه وي د هغۀ پۀ حالت کښې د زمکې او اسمان نه زيات فرق وي- د مدينے د عاشق د پاره دا وخت پۀ زړۀ باندې د غر راپريوتو د غم پۀ شان وو، دا خبره يو شاعر پۀ ډير ښکلي انداز کښې بيان کړې ده:

یہ تو طیبہ کی محبّت کا اثر ہے ورنہ کون روتا ہے لپٹ کر در و دیوار کے ساتھ

## تۀ ځې نۀ بلکې واپس راځې

د بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه چې رخصت شو نو د مدينے عاشق د خپل پير او مُرشِد پۀ خدمت کښې حاضر شو، پۀ مُريد کښې ښۀ عادتونه د پير او مرشد له وجهې وي، د مدينے عاشق امیرِ اهلِسُنَّت ته د مدينے منورې د غم تحفه هم د پير او مرشد د بارګاه نه حاصله شوې وه نو د مدينے عاشق د خپل درد او غم د علاج د پاره پۀ ژړا، پۀ سترګو منښلو، غورځيدو پاڅيدو د سيدي او مرشدي، شيخُ العَرَب و العَجَم، خليفۀ اعلیٰ حضرت، قطبِ مدينه الحاج ضياء الدين مَدَني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه آستانۀ عاليه ته ورسيدو او د پير او مرشد پۀ غيږه کښې يې سر کيښودو او پۀ ژړا شو- الله والا د مدينے د عاشق د زړۀ پۀ حالت پوهيږي او هم هغوئي پۀ زخم باندې مرهم کيښودے شي- سيدي قطبِ مدينه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خپل مُريد امیرِ اهلِسُنَّت د غمزيلي زړۀ علاج وکړو:

ہوں ضِیاء الدّین کا ادنیٰ گدا
میرے مرشد کا سخی دربار ہے

هغه داسې چې کله سيدي قطبِ مدينه رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د هغوئي نه پوښتنه وکړه چې څۀ وشو؟ نو هغوئي عرض وکړو: حضور! نن زما د مدينے منورې نه رخصتي ده- حضرت پرې د شفقت لاس راښکلو او اوئې فرمائيل: "**تاسو د مدينے نه ځئ نۀ بلکې راځئ-**"

د درد او غم پۀ حالت کښې د مدينے عاشق فوراً پوهه نه شو چې د پير او مُرشِد پۀ دې فرمان مبارک کښې کوم رازونه پټ دي چې دا د ولِي کامل د خُلې مبارکې نه وتلي دي او يقيناً د لوئي خلقو خبرې لوئي وي، بيا د هغه کال 1980 د مدينے منورې د سفر نه پس اوسه پورې تر کال 2024 ډير ځل د مدينے عاشق اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡبَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه ته د مدينے منورې د حاضرۍ ډير زيرې نصيب شول- د پير او مرشد د دې مبارکو الفاظو "**تاسو د مدينے نه ځئ نۀ بلکې راځئ-**" مطلب دا وو- اميرِ اهلِسُنَّت د خپل پير او مرشد دا مبارکه جمله پۀ شعرونو کښې څۀ داسې بيانوي:

مرشدی نے کہا، تُو نہیں جا رہا     بلکہ ہے آ رہا میں مدینے میں ہوں

## د مدينے منورې د ښځې ويزې لګولو آفر

د مدينے د عاشق يو دوست څوک چې پۀ مدينه منوَّره کښې اوسيدو، د هغوئي سره به يې ډير محبت کولو، هغوئي اميرِ اهلِسُنَّت ته آفر وکړو چې زۀ د سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضې پۀ لور لاس کووم او وايم چې تاسو ښۀ وکړئ نو زۀ پۀ مدينه منوَّره کښې ستاسو د اوسيدو انتظام کووم او تاسو ته ښځه ويزه لګووم- د مدينے عاشق اګر چې د مدينے د محبت جامونه څښلي وو خو د خپل زړۀ جذبات يې د قابو کولو سره د مدينے منورې د

شهنشاه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو د پیغام پهٔ تولهٔ دنیا کښې د عام کولو جذبه يـې لرله، د هغوئي دې جذبې ته دې پهٔ لکونو سلامونه وي چې هغوئي خپل هُغه دوست ته ووفرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ما ته چې پهٔ پاکستان کښې څنګه د دِين د خدمت سعادت حاصل دے دلته پهٔ ظاهره داسې ممکن نه ده ځکه دلته پهٔ مستقل طور پاتې کيدے نشم لکه چې د هغوئي حالت د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خليفه محدثِ اعظم هند حضرت علامه مولانا سَيّد محمد اشرفي جيلاني کچهوچهوي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې شعر مِصداق وو:

مدینے کا کچھ کام کرنا ہے سید مدینے سے بس اس لیے جارہا ہوں

(فرش پر عرش، ص158)

## د دِين د خدمت بے مثاله جذبه

اے د مدينے عاشقانو! دلته يوه خبره عرض کووم چې د اللّٰه پاک د خوږ آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه لوئي عاشقان صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم وو- د اللّٰه پاک خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله د دُنيا نه ظاهري انتقال شريف ووفرمائيلو نو پهٔ مدينه منوَّره کښې موجودو پهٔ زرګونو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم د دِينِ اِسلام او د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پيغام عام کولو د پاره د دُنيا د مختلفو علاقو په لور روان شول او بيا يـې خپل ټول ژوند د نيکۍ پهٔ دعوت کښې تير کړلو د کومې لوئي مثال چې دا دے چې د يو قول مطابق د حُجَّةُ الوداع پهٔ موقع باندې يو لاکھ څليرشت زره صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم موجود وو- خو نن د مدينے منورې پهٔ مشهوره هديره "جنّتُ البقيع شريف" کښې صرف د لسو زرو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم مزارونه

مبارک موجود دي- که د یو صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مزار مبارک پهٔ پاکستان کښې دے نو بَل پهٔ هندوستان کښې ارام فرمائي، که د یو صحابي مزار مبارک پهٔ تُرکیه کښې دے نو د بَل صحابئ رسول رَضِیَ اللہُ عَنْہُ مزار مبارک پهٔ چین کښې دے- صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنْہُم د دُنیا مختلفو ملکونو ته تشریف یوړلو او د قرآنِ او سُنَّت پیغام یې عام کړو-

## د مدینے د عاشق جذبات د دعوتِ اِسلامي د ذِمه دارانو پهٔ نوم

د کال 1980 د مدینے د سفر پهٔ وخت دعوتِ اِسلامي جوړه کړے شوې نه وه، خو د مدینے د عاشق د دینِ اِسلام د خدمت جذبه بام ته رسیدلې وه- هغوئي به هٔغه وخت هم پهٔ مختلف انداز کښې څهٔ نا څهٔ خلق راجمع کول او د دِین کار به یې کولو- د مدینے منورې پهٔ حقیقي عاشق امیرِ اهلِسُنَّت کښې د نیکۍ د دعوت عام کولو جذبه وه او پهٔ ټوله دُنیا کښې یې د نیکۍ د دعوت عام کولو پخه اراده لرله- هغوئي څو څو کرته د دعوتِ اِسلامي ذِمه دارانو ته څهٔ داسې مَدَني ګلونه عطا کړي دي چې تاسو ټول کال مدینے منورې ته حاضري کوئ، حجونه کوئ، عمرې کوئ خو پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې جوماتونو ته داسې ډیر نـمونځ کوونـکي راځي خوک چې ټول کال جومات ته نه راځي که د دعوتِ اِسلامي ټول ذِمه داران د نیکۍ د دعوت ورکولو پهٔ داسې اهمه موقع باندې د مدینے منورې پهٔ لور لاړ شي نو دوئي به د مدینے د آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّتو باندې عمل کوونـکي څوک جوړوي؟ څوک به دوئي پاخه نـمونځ ګزاره او رښتوني عاشقِ رسول جوړوي؟ زهٔ د دعوتِ اِسلامي ذِمه دارانو ته درخواست کولے شم چې د مدینے منورې د حاضرۍ نورې هم ډیرې موقعې دي، راځئ یو ځل د مدینے د رمضان سعادت حاصل کړئ-

پهٔ دې مثال باندې داسې ځان پوهه کړئ چې مختلف داسې کاروباريان د چا سيزن چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک يا ورو‌کے اختر وي لکه مټيان جوړونکي، درزيان وغيره- که تاسو هغوئي ته پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د عمرې ټکټ فري هم ورکړئ نو هغوئي به نه ځي ځکه چې هغوئي ته معلومه ده چې پهٔ دې ورځو کښې د کار کولو سره کيدے شي چې مونږ د لسو ټکټونو رقم وګټو، مدينے منورې ته به پهٔ بَله مياشت کښې لاړ شو، چې د سپکې دُنيا د رقم حاصلولو جذبه لرونکي پهٔ مفتو کښې هم د رمضانِ مدينه سعادت نه حاصلوي نو پهٔ ټوله دنيا کښې د نيکۍ دعوت عام کوونکي او د ټولې دنيا د خلقو د اِصلاح جذبه لرونکي د دې عظيم مقصد پوره کولو د پاره پهٔ دې اهمه موقع د نيکۍ د دعوت د پاره ولې نهٔ ايساريږي؟ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي د لاندې پهٔ کيدونکي آخرۍ عشره او د ټول رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې پهٔ اِعتکاف کښې پهٔ زرګونو اعتکاف کوونکي جوماتونو ته راځي که ذِمه داران د رمضانِ مدينه د پاره لاړ شي نو په دې اعتکاف کوونکو کښې د بے لارې شوو ګسانو اِصلاح به څوک کوي؟ پهٔ دې کښې موجود صرف پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې نـمونځ کوونکي به د ټول کال نـمونځ ګزاره څوک جوړوي؟ دوئي به د سُنَّت مطابق ژوند تيروونکي څوک جوړوي؟ الله دې وکړي چې زما خبره ستاسو زړهٔ ته کوزه شي-- پهٔ دې باره کښې يوه خوندوره واقعه واورئ او پهٔ ځان کښې د نيکۍ د دعوت جذبه پيدا کړئ:

## د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برکتونه پهٔ هر ځائے کښې دي

يو بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زهٔ پهٔ مدينه منوره کښې روضې مبارکې ته حاضر شوم نو پهٔ ما باندې يو خاص کيفيت راغلو او ما عرض وکړو: يا رسولَ الله

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما خواهش وو چې مدينے منورې ته د راتللو نه پس زما واپس وطن ته تلل نصيب نشي په دې باندې د قبر مبارک نه اواز راغلو: که زۀ په خپل دې قبر کښې قيد يم نو بيا دلته راتلونکي هر کس ته هم دلته پاتې کيدل پکار دي او که زۀ په هر حال کښې د خپل اُمَّت سره يم نو تا له واپس خپل ښار ته تلل پکار دي- هٰغه بزرگ رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: دا مې چې واوريدل نو زۀ خپل وطن فارس ته واپس راغلم- (الابریز، 88/2)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي- اٰمِيۡن بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِيۡن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

پئے تبلیغِ سنّت تو جہاں رکھے مگر اے کاش!
میں خوابوں میں پہنچتا ہی رہوں اکثر مدینے میں

## لکه چې په کور کښې غم شوے وي

د مدينے عاشق، د مدينے د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د خپل پير او مرشد په خدمت کښې د الوداعي حاضرئ کولو نه پس خپل د پاتې کيدو ځائے ته راغلو، هلته د بعضې خلقو سره هغوئي اشنا شوي وو او خلق ورسره د میلاویدو د پاره راتلل خو د مدينے د عاشق د زړۀ حالت داسې وو لکه چې د هغوئي څوک وفات شوے دے او خلق د لاس نيوې د پاره راځي، آخر هٰغه وخت راغلو چې د مدينے عاشق د مدينے منورې د جدايۍ د غم سره په ګاډي کښې کښيناستو او د جدې مبارکې په لور روان شو لکه چې دا شعر يې په خُله باندې وو:

روضے کی جالی دل میں بسالوں تَن مَن دَھن سب ان پر لُٹادوں
وقتِ زیارت زائرِ کے دل میں ہوتے ہیں کیا جذبات نہ پوچھو

## جدې مبارکې ته حاضري او د نـمونځ فِکر

د کال 1980 د مدینے منورې د سفر په آخرئ شپه د مدینے عاشق، د مدینے منورې نه رخصت شو، ګاډے په تیزئ سره د جدې شریف په لور روان وو چې د جدې مبارکې نه په څه فاصله باندې د مدینے د عاشق نظر د اسمان په لور شو نو محسوس شوه چې د سحر وخت شروع شوے دے۔ د مدینے منورې د جدايئ غم په خپل ځائے وو او د سحر د نـمونځ جذبه هم سلامته وه، هغوئي پاڅيدل او "**د نـمونځ وخت شوے دے!**"، "**د نـمونځ وخت شوے دے!**" غږ يـې وکړو۔ د دعوتِ اِسلامي د جوړيدو نه وړاندې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "**د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول**" د هغوئي معمول وو۔ د مدینے د عاشق د سحر د نـمونځ د پاره په اوازونو باندې چا څه مرسته ونـکړه، هغوئي د ډرائيور خوا له لاړل او هغۀ ته يـې د ګاډي ودرولو د پاره ووفرمائيل چې د سحر وخت شوے دے۔ آه! د محرومئ انتها يـې وکړه چې هغۀ هم څۀ توجه ورنـکړه۔ د هغوئي زړۀ ډير خفه شو او په خپل سيټ باندې کښيناستو، لږ وخت پس يـې بيا د اسمان په لور وکتل نو رڼا زياته شوې وه۔ د مدینے عاشق يو وارې بيا همت وکړو او د حاجيانو نه ډک بس ته يـې د نـمونځ کولو دعوت ورکړو خو چا څۀ خاص پام ونـکړو۔ د بے وسئ انتها وه چې نۀ ډرائيور ګاډے ودروي او نۀ بَل څوک ورسره کيږي او د نـمونځ د پاره ودريږي۔ د حج نه پس د عبادتونو او رياضتونو د ذوق او شوق زياتيدو په ځائے حاجيانو د خوب نه بـه ډير خوندونه اخستل، خوب هم داسې وو چې څوک راپاڅيدو ته هډو تيار نه وو۔ د مدینے د عاشق زړۀ د مدینے منورې په غم کښې د وړاندې نه ناقلاره وو، بيا ورسره دا غم هم وو چې د سحر نـمونځ رانه په ناسته ناسته قضا کيږي، د حج د سفر په شان په دې موقع هم د اوداسه د پاره د اوبو بوتل د هغوئي سره وو خو په بس

کښېږ اودس ځنګه وکړي خیر چې هر ځنګه وو تیمم یې وکړو او په سیټ
باندې یې په ناسته ناسته نمونځ ادا کړو، د دې نه علاوه نور څۀ کیدے شو،
لږ وخت پس جده مبارکه راورسیده، کیدے شي چې ډرائیور په دې سوچ ګاډے
نه ودرولو چې جدې مبارکې ته د رسیدو سره به نمونځ ادا کړي اګر چې داسې
کول نه وو پکار خاص طور په داسې نمونځونو سحر، مازدیګر او ماښام کښې
چې د دې وخت ډیر کم وي، منزل ته په رسیدو رسیدو کښې که چرته په لاره
کښې ګاډے خراب شو نو د نمونځ، اوداسه د پاره به مسافر په ډیر ازمیښت
کښې شي ځکه چې د سفر په وخت کومه ورومبۍ موقع راشي هلته د ودریدو
سره نمونځ ادا کول پکار دي- د جدې مبارکې په سټاپ باندې چې ځنګه
ګاډے ودریدو، د مدینے عاشق زر راکوز شو، خپل سامان یې په فټ پاتھ باندې
کیښودو او د اوبو بوتل یې راواخستو او اودس یې وکړو او نمونځ یې ادا کړو
او د سلام ګرځولو په وخت یې ګړۍ ته وکتل او وخت یې نوټ کړو- په هُغه
ورځو کښې د نمونځونو د وختونو څۀ ایپ یا نیټ سسټم خو نه وو-[2] وروستو
چې یې کله په کلینډر کښې د سحر د نمونځ وخت وکتو نو ظاهره شوه چې
اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! هغوئي په وخت باندې د سحر نمونځ ادا کړے وو- د دې نعمت
خوشحالي هم د لیدو قابل وه- کاش چې زمونږه هم د نمونځونو فِکر نصیب
شي- د مدینے عاشق د هُغه ځائے نه د خپل یو دوست خوا له لاړو، څۀ وخت
هلته د ایساریدو نه پس ائیر پورټ ته روان شو او بیا بیا-- کراچۍ پاکستان---

---

[2]... اَلحمدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي مجلِسِ تَوْقیت د مجلس آئي ټي په مرسته " Prayer Times " ایپ جوړ کړے دے، د کمپیوټر سافټ وئیر په ذریعه د دُنیا تقریباً د 27 لاکھه ځایونو او د موبائل ایپلی کیشن په ذریعه تقریباً د لسو زرو ځایونو د پاره د نمونځونو صحیح وختونه او د قبلې اړخ په اسانۍ سره معلومیدے شي- د دې ایپلی کیشن انسټال کولو د پاره QR Code سکین کړئ-

روتا ہوا پہنچا تھا روتا ہوا لوٹا تھا ہیں وَصل کی دو گھڑیاں پھر ہجرِ مدینہ ہے

(وسائلِ بخشش، ص503)

## د مدینے منورې نه واپس راتلونکي ته د رضا پيغام

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مدینے منورې نه واپس راتلونکي د مدینے منورې زيارت کوونکي ته فرمائي: د رخصتيدو په وخت مُواجَهۀ اَنور ته حاضر شئ او د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نه بيا بيا د دې نعمت (يعني د مدینے منورې د حاضرۍ) د عطا کولو سوال وکړئ او ټول آداب چې د کعبې معظمې نه په رخصتيدو کښې تير شول د ځان ورانديې کړئ او په رښتوني زړۀ سره دُعا وکړئ چې يا الله! په ايمان او سُنَّت باندې په مدينه منوره کښې مره کيدل او په بقيع پاک کښې مې دفن کيدل نصيب کړې- اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا اٰمِيْنَ اٰمِيْنَ اٰمِيْنَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَابْنِهٖ وحِزْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ اٰمِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ.

(فتاوىٰ رضويه، 769/10)

## د الوداع په وخت د گدا عرض

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په دريم ځل د حج نه په واپسۍ باندې د مدینے منورې نه د واپسۍ الوداع ليکلې وه د لوستلو د ذوق د پاره هغه وړاندې کولے شي:

اَلوَداع اے سبز گنبد کے مکیں اَلفِراق اے رحمۃٌ لِّلعالمیں
اَلوَداع اے مَظہرِ ذاتِ خدا اَلفِراق اے خَلق کے مشکل کشا
اَلوَداع اے شہرِ پاکِ مصطفٰی اَلفِراق اے مَہبِطِ وَحیِ خدا
جارہا ہے اب ہمارا قافلہ اے دَر و دِیوارِ شہرِ مصطفٰی

یاد تیری جس گھڑی بھی آئے گی ۔ ہے یقیں دل کو بہت تڑپائے گی
اے دلوں کے چین اے پیارے نبی ۔ لو غلاموں کا سلامِ آخری
دُور سے آئے تھے پردیسی غلام ۔ عرض کرنے کو غلامانہ سلام
آستانہ سے وَداع ہوتے ہیں اب ۔ یہ تو فرماؤ کہ بُلواؤ گے کب
چشمِ رَحمت سے نہ تم کرنا جدا ۔ رکھنا اپنے سائے میں ہم کو سدا
اے مدینہ والو تم سب خوش رہو ۔ دامنِ محبوب میں پُھولو پَھلو
عرض اتنی ہے مگر اے دوستو! ۔ یاد ہم کو بھی کبھی کر لیجیو
آخِری دِیدار ہے اے زائِرو ۔ خوب جی بھر کر یہ گنبد دیکھ لو
کیا خبر ہے خوب دل میں سوچ لو ۔ پھر مقدَّر میں ہو آنا یا نہ ہو
یہ کوئی دَم میں چُھپا جاتا ہے اب ۔ فاصلہ کوسوں ہوا جاتا ہے اب
پھر کہاں تم اور کہاں یہ دوستو ۔ دید آخر کو غنیمت جان لو
ہے دعا سالکؔ کی اے بارِ خدا ۔ زندگی میں پھر مدینہ دے دکھا

(دیوانِ سالک، ص 120)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!   صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مدینے د تاجدار الوداع

حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُما فرمائي: نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله خوک رخصتولو نو د هغهٔ لاس به يې نيولو او ېچپله به يې نه پريښودو تر څو پورې چې به هُغه کَس د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لاس ېچپله نه وو پريښودے او فرمائيل به يې چې ستا دِين، ستا امانت او ستا آخري عمل الله ته سپارم او پهٔ يو روايت کښې دي د خاتمې عمل- (ترمذی، 277/5، حدیث: 3453)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم چې به کله په سفر تلل نو د حضور پاک صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې به حاضريدل او د هٰغه بارګاهِ عالي نه به رخصتيدل، د هٰغه وخت دلته ذِکر کيږي، اوس هم زيارت کوونکي د مدينے منورې نه د رخصتيدو په وخت د آخري سلام د پاره روضې مبارکې ته حاضريږي او عرض کوي: "اَلوَداع اَلوَداع يا رسولَ الله الفِراق يا حبيبَ الله" مونږه يوه وَداعيه قصيده عرض کړې وه د کومې چې څه اشعار دا دي۔

دور سے آئے تھے پردیسی غلام　　عرض کرنے کو غلامانہ سلام

آستانہ سے وداع ہوتے ہیں اب　　یہ فرماؤ کہ بلواؤ گے کب

چشمِ رحمت سے نہ تم کریو جُدا　　رکھیو اپنے سایہ میں ہم کو سدا

مفتي صاحب نور فرمائي: دا د حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بنده نوازي او شانِ کريمانه دے چې د غلامانو نه لاس پخپله نهٔ پريږدي، اوس هم هغوئي ګنهګاران پخپله نه پريږدي، الله تعالیٰ دې د هغوئي د قدمونو سره پيوست توب عطا کړي۔ په دې دُعا کښې لطيف اشاره په دې لور هم ده چې اے په مدينه کښې زما خوا ته اوسيدونکيه د اوسه پورې تهٔ زما په سورې کښې وې چې د هرې مسئلې پوښتنه به دې زما نه کوله، هر مشکل به دې په ما حل کولو اوس تهٔ زما نه لرې کيږې چې په هر حاجت کښې به زما نه پوښتنه ونکړے شې نو ستا هر کار مې الله پاک ته سپارلے دے۔ خومره ښکلې دُعا ده او خومره مبارکه وداع ده! (مراٰۃ المناجیح، 43/4 ملتقطاً)

## مسجدِ مائِده

د مسجدِ بني ظفر خوا ته "مسجدِ مائِده" وو۔ منقول دي چې دا جومات په هٰغه ځائے باندې جوړ وو کوم ځائے چې سلطانِ کون و مکان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د

نجران د نصرانیانو سره د مُباهلې د پاره منتخب فرمائیلے وو او په کوم ځائے کښې چې حضرت سَلمان فارسي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره لرګي ودرولي وو او خپل څادر یې پرې غوړولے وو او سورے یې پرې کړے وو او حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو اهلِ بیتو سره هلته تشریف وړے وو- د یو تاریخي روایت مطابق په دې ځائے کښې د آقائے نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د اهلِ بیتِ اطهار رَضِیَ اللهُ عَنْهُم د پاره د جنَّت نه په "پینځوو لوښو" کښې خوراک نازل شوے وو- ځکه دې ته "مسجدِ پنج پیاله" هم وئیلے شي- دلته عاشقانِ رسول د یادګار په طور ګنبد جوړ کړے وو- په 1400ھ کښې سګِ مدینه عُفِيَ عنه د دُغه مقدس ځائے د ګندر زیارت کړے وو، ګنبد وغیره موجود نه وو او د دې لیکلو په وخت د فضاګانو نه علاوه هیڅ نه وو پاتې- د عاشقانِ رسول د پاره د دې فضاګانو زیارت کول او په عشق رسول کښې زړه سوزول هم لوئې سعادت دے- (عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، ص309)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خلیفهٔ امیرِ اهلِ سُنَّت الحاج ابو اُسَید عُبَید رضا مَدَني مدّ ظلّه العالی له طرفه هره هفته د یوې رسالې لوستلو یا اوریدلو ترغیب ورکولے کیږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خویندې دا رساله لولي یا اوري او د امیرِ اهلِ سُنَّت او خلیفهٔ امیرِ اهلِ سُنَّت د دعاګانو حقدار جوړیږي. دا رساله په آډیو کښې د دعوت اسلامي د ویب سائټ

www.Dawareislami.net یا د Read and listen Islamic book ایپلي کیشن نه فري داؤن لوډ کیدے شي. د ثواب په نیّت یې پخپله هُم لوّلئ او د خپلو مرحومینو د ایصالِ ثواب دپاره یې تقسیموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-675-7
01082502

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net